# د افغانستان اسلامی امارت

## وزارت معادن و پترولیم

# د کانونو او پټرولیم وزارت کلنی راپور

کال ۱۴۴۶ هـ ق

---

## بسم الله الرحمن الرحيم

**حامداً و مصلیاً و بعد!**

**السلام علیکم و رحمة الله و برکاتُه:**

کانونه د افغانستان د ملت شتمني ده، د افغانستان اسلامي امارت د دې شتمنۍ د ساتلو او د ملت د خیر او هوساینې لپاره د دوامدارې او موثرې استفادې په خاطر په ډېر دقت کار کوي.

د افغانستان ا سلامي امارت د کانونو د سکټور لپاره منظم لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله پلانونه ترتیب کړي چې په تطبیق سره به یې دغه سکټور تنظیم شي. همدارنګه د افغانستان اسلامي امارت ژمن دی چې د کانونو په سکټور کې شفافیت را منځته کړي او عواید یې د اقتصادي پرمختګ او خلکو ته د هوساینې برابرولو په موخه د بنسټیزو او ملي پروژو په تطبیق کې ولګوي او همدارنګه د کانونو سکټور څخه په ګټې اخیستنې د هېواد صنایع تقویه او د صادراتو کچه لوړه کړي.

د کانونو او پټرولیم وزارت د افغانستان د کانې زیرمو د تنظیمونکي او مدیریت کوونکي په حیث، زیار باسي چې یاد سکټور په اساسي او مسلکي ډول مدیریت کړي او په دې سکټور کې د کورنیو او بهرنیو پانګوالو د جلبولو لپاره زمینه برابره کړي. چې د پایداره انکشاف د معیارونو مطابق د کان کیندنې جوازونو او قراردادونو لاسلیک او د هېواد په اقتصادي وده کې د کانونو سکټور فعال نقش یقیني کړی.

همدارنګه، هېواد کې د متوازن انکشاف اصل په نظر کې نیولو سره د منرالونو او نفت او ګازو سرچینو انکشاف ته لومړیتوب ورکړي او د الکترونیکي سیستمونو څخه په استفادې سره شفافیت تأمین او تضمین کړي.

| د اداري بشپړ نوم | د کانونو او پټرولیم وزارت/ وزارت معادن و پترولیم |
|---|---|
| **نیټه** | ۱۴۴۶ هـ ق مطابق ۱۴۰۳ و ۱۴۰۴ هـ ش |

**د لاسته راوړنو شرح**

**(شرح دست‌آورد ها)**

**د کانونو او پټرولیم وزارت خپل اساسي وظایفو ته په کتو سره د کانونو سکټور په تنظیم او مدیریت کار کړی چې عمدتاًد سیستمونو په جوړولو، اداري ا صلاحاتو، شفافیت، پانګونې جلب، نویو کانونو سروې او د قراردادونو مدیریت برخو څخه عبارت دي چې جزییات یې په لاندې ډول دي.**

| | |
|---|---|
| **د کانونو او پټرولیم وزارت تشکیل؛** | د کانونو او پټرولیم وزارت په خپل تشکیلاتي جوړښت کې څلور معینیتونه، (۴۱) مرکزي ریاستونه او (۳۴) ولایتي واحدونه لري چې د ریاست الوزراء عالي مقام د (۶۰۰۶) ګڼې نېټه (۱۴۴۶/۱۱/۰۱) هـ ق حکم په اساس د ۱۴۰۴ هـ ش کال منظور شوی تشکیل کې مجموعاً (۲۳۳۷) کارکوونکي لري چې له هغې جملې څخه (۱۴۶۷) مرکزي او (۸۷۰) ولایتي کارکوونکي تشکیلوي.<br>• کانونو او پټرولیم وزارت په تخنیکی بستونو کې د تېرې اداري د مسلکي کسانو ترڅنګ نوي کسان هم د آزاد سیالی له لارې استخدام کړي دي. |
| **د نویو کانونو کشف/ سروېګانې؛** | • د نویو کانونو د پېژندنې په موخه د دې وزارت سروې ټیمونو د هېواد په کچه د بیلابیلو منرالونو (۳۷۸) کاني ظواهر او کاني ساحې سروې کړي چې د یادو سروېګانو څخه په استفادې جیولوجیکي معلومات چمتو شوي ترڅو یادې ساحې داوطلبی ته وسپارل شي.<br>• ترتیب (۴۰۰) نقشه ساحات معدنی، توپوګرافیکی، جیولوجیکی، لیتولوجیکی، مواد حقیقی و شدت زلزله به مقیاس های مختلف جهت تسهیل روند سروی، جلب سرمایه گذاری و عقد قرارداد های ساحات معدنی کشور.<br>• دیجیتل سازی (۳۰) نقشه جیولوجیکی سال های قبل جهت حفظ و نگهدا شت بهتر بمنظور ا ستفاده از آن جهت تسریع روند تفحص ساحات معدنی کشور.<br>• بمنظور تشخیص کیفیت و تعیین قیمت اصلی مواد معدنی کشور، به تعداد (۳۸۷۵) نمونه های مختلف معدنی توسط لابراتوار های مرکزی وزارت تجزیه و تحلیل دقیق لابراتواری آنها صورت گرفته است.<br>همچنان ده ها تن از سرمایه گذاران و مراجعین داخلی و خارجی که علاقمند سرمایه گذاری در این سکتور بوده اند از موزیم جیولوجی و شعبات ذیربطه وزارت جهت مشاهده انواع مختلف نمونه های منابع معدنی و اخذ معلومات دیدن نموده اند. |
| **د کوچني مقیاس کانونو قراردادونه؛** | د کوچني مقیاس کانونو قراردادونه د نافذه اصولو سره سم د آزادې سیالۍ له لارې په پوره روڼتیا، ښه قیمت او د هېواد ملي ګټو په نظر کې نیولو سره یواځې کورنیو پانګوالو سره عقد کېږي ترڅو په داخل د هیواد صنایع قوي او خلکو ته لا زیاته د کار زمینه برابره شي.<br>کانونو او پټرولیم وزارت په ۱۴۴۶ کال کې د کوچني مقیاس (۴۲) قراردادونه د مختلفو معدني موادو لکه: سرپنټین، کرومایټ، تالک، سره زر، ګچ، چونه، آهک، سلفر، نفرایټ، مرمر، مالګه، سرب او جست،کلسیت، رخام، ټراورټین او فیروزې د هېواد په بیلابیلو ولایتونو کې ورکړي کړي دي.<br>- قابل یاد آوری است که وزارت معادن و پترولیم بعد از فتح الی اکنون به تعداد (۱۷۵) قرارداد های معادن کوچک را با در نظر داشت اصول انکشاف متوازن در سطح کشور به ارزش سرمایه گذاری (۸ الی ۱۰) میلیارد افغانی عقد نموده است که زمینه اشتغال را برای هزاران تن بشکل مستقیم و غیر مستقیم فراهم نموده است. |
| **د کاني موادو پرو سس اجازه نامې؛** | لکه څرنګه چې د کاني موادو پروسس د افغانستان په داخل کې د اقتصادي ودې لپاره زمینه برابروي نو دې اهمیت ته په کتو سره د کانونو او پټرولیم وزارت د کانیموادو پروسس د تشویق په موخه اړین سهولتونه رامنځته کړي او توانیدلی د کان کیندنې شرکتونو ته (۴۹) د پرو سس اجازه نامې صادرې کړي چې مخلتف منرالونه لکه: کرومایټ، نفرایت، تالک، سلفر، ګچ، مرمر، خاورین جغل، شګه او جغل او نور منرالونه په کې شامل دي. |

| | |
|---|---|
| **د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو مدیریت؛** | د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو کان کېندنې چې په زرګونو خلک د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې په دې برخه کې په غیر رسـمي ډول په کار بوخت وو. اوس مهال د کانونو او پټرولیم وزارت د یادو ډبرو قانوني اسـتخراج او طی مراحلو په موخه د حرفوي کان کیندنې طرزالعمل چمتو کړی چې له مخې یې د دې برخې ټول کارونه مدیریت کیږي.<br>**زمرد ولایت پنجشیر:**<br>زمرد ولایت پنجشیر که پر بها ترین سرمایه ملی کشور بوده و قبل از حاکمیت امارت اسلامی سال ها از طرف زور مندان بشکل غیر قانونی استخراج، قاچاق و پول آن حیف و میل می‌شود.<br>پس از حاکمیت امارت ا سلامی افغانستان جلو ا ستخراج غیرقانونی و قاچاق آن کاملاً گرفته شد و از طرف تیم های سروی وزارت معادن و پترولیم ساحات زمرد ولایت پنجشیر سروی همه جانبه گردید.<br>این وزارت جهت استخراج قانونی در سال ۱۴۴٦ هــ ق به تعداد (۲۲۴) اجازه نامه حرفوی زمرد و (۳) اجازه نامه حرفوی یاقوت را در ولایت پنجشیر صادر نموده است.<br>- قابل یاد آوری اســت که از فتح الی اکنون به تعداد (۷۷۹) اجازه نامه های حرفوی زمرد به مردم محل توزیع گردیده که زمینه کاری را برای حدوداً (۱۵۰۰۰) تن فراهم نموده است.<br>زمرد استخراج شده از طریق دواطلبی های آزاد و شفاف در مقام ولایت پنجشیر بفروش میرسد که در جریان ســال ۱۴۴٦هــــــ ق حدوداً (۸۰) هزار قیراط زمرد به ارزش حدوداً (۳,۵) میلیون دالر امریکایی به سرمایه گذاران داخلی و خارجی بفروش ر سانیده شده که سهم امارت ا سلامی در آن فقط (٪۱۰) بوده و (٪۹۰) آن سهم معدنکاران می باشد.<br>**د کنړ او نورستان ولایتونو قیمتي او نیمه قیمتي ډبرې:**<br>په کنړ او نورستان ولایتونو کې د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو استخراج د حرفوی کان کیندنی طرزالعمل په اساس مدیریت کیږي چې د نومړو ولایتونو اسـتخراج شـوي کاڼي په مربوطه ولایتونو کې داوطلبي او د امارت سـهم ورڅخه د امارت حساب ته تحویل کېږي.<br>**د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو مارکیټونه:**<br>• په کابل کې د افغانســتان د قیمتی او نیمه قیمتی ډبرو د پلور او پروســس لپاره د یو منظم نړیوال مارکیټ جوړولو په موخه د اقتصادی معاونیت هدایت په اساس د اړوند وزارتونو په ګډون کمیټه ترتیب شوی ترڅو په هیواد کې د قیمتی ډبرو پروسس، لابراتوار، پیر او پلور لپاره ستندرد مرکز چمتو شی. په دی اړه وزارت د مربوطه کمیټی په همکاریٔ طرح ترتیب او ځمکه مشـخص کړی چی په راتلونکې کي به د هېواد قیمتي ډبرې همدلته مدیریت او هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شی.<br>• په هېواد کې د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو د انتقال، خرڅلاو او ساتنې لپاره په ننګرهار او کنر ولایتونو کې د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو د قاچاق د مخنیوي په موخه د خرڅلاو مارکیټونه جوړ شــوي او اوسـمهال د نوموړو ولایتونو ډبرې په همدې مارکیټونو کې داوطلبي او د امارت سـهم ورڅخه د امارت حساب ته تحویل کیږي. |

| | |
|---|---|
| **د زر شويي فعاليتونه؛** | په تخار او بدخشـــان ولايتونو کې د زرشـــويي کارونه له کلونو راهيسي– په غير قانوني او خپل سري ډول ترسره کېدل. کانونو او پټروليم وزارت د يادې پروسې د قانوني کولو په موخه د زرشويي کانې ساحې سروې او سکېچ ترسره کړې او د زرشوي فعاليتونو د تنظيم لاربسود له مخې په نوموړو ساحو کې د حرفوي کان کيندنې قراردادونه او اجازه نامې صادرې کړې دي.<br>د دې پروسې په نتيجه کې د دې برخې په عوايدو کې زياتوالی راغلی او شاوخوا (۲۰) زره کسانو ته په مستقيم او زرگونو نورو ته په غير مستقيم ډول د کار زمينه برابره شوې. |
| **لـوی مـقـيـاس کـانـونـو قراردادونه؛** | د کانونو او پټروليم وزارت په ۱۴۴٦ هـــــ ق کال کې د لوی مقياس کانونو (۱۰) قراردادونه په ارزښـــت د 5،040،664،900 افغانی او 297،938،990 ډالر په کابل، هرات، فارياب، ننگرهار، جوزجان، لوگر، قندهار او پروان ولايتونو کې لاسـليک کړي چې مختلف منرالونه لکه: ياقوت، باريت، کروومايت، مالگه، نفرايت، د سـمنټو اومه مواد او مرمر ډبرې په کې شاملې دي.<br>• د يادونې وړ ده چې له فتحې وروسته تر اوسه د لوی مقياس (۲۸) کانونه لکه: ډبرو سکاره، اوسپنه، سرب او جست، مس، سره زر، ياقوت، باريت، کروومايت، مالگه، نفرايت، د سمنټو اومه مواد او مرمرو ډبرې کورنيو او بهرنيو پانگوالو ته د اکتشاف، استخراج او گټې اخيستنې په موخه د ملي گټو په پام کې نيولو سره په قرارداد ورکول شوي دي.<br>په يادو پروژو کې په حدود **د (۷,۵) ميليارد ډالر (معادل د ۵۲۵ ميليارد افغانی)** پانگونه جلب شوې او د اوس لپاره زرگونو کسـانو ته په مسـتقيم او غير مسـتقيم ډول د کار زمينه برابره شـوې چې د کارونو پرمختگ سره به لازيات کاري فرصتونه برابر شي، همدا راز به د داخلي عوايدو زياتېدو ترڅنگ د هېواد صنعتي کېدو او په ځان بسياينې برخه کې مرسته وکړي. |
| **پروژه های سمنت؛** | وزارت معادن و پترولیم از فتح الی اکنون به تعداد (۵) پروژه ســـمنت را به ارزش (۷٦۸) میلیون دالر با شرکت های داخلی و خارجی عقد نموده است. این پروژه ها ظرفیت تولید بیشـتر از (۱۵۰۰۰) تن سـمنت در روز را دارد که با عملی شدن این پروژه ها افغانستان در سکتور سمنت خود کفا و زمینه برای صادرات سمنت را نیز فراهم خواهد نمود.<br>لازم به یاد آوری است که در پروژه های متذکره عملاً روی اکتشاف مواد خام سمنت، انتقال ماشینری به ساحه، ساخت و ساز فابریکه جهت آمادگی به تولید سمنت کار جریان دارد.<br>1. پروژه سمنت شوراندام ولایت قندهار با ظرفیت (۳۳۰۰) تن در روز؛<br>2. پروژه سمنت زنده جان ولایت هرات با ظرفیت (۳۰۰۰) تن در روز؛<br>3. پروژه سمنت جبل السراج ولایت پروان با ظرفیت (۵۰۰۰) تن در روز؛<br>4. پروژه سمنت یتیم تاق ولایت جوزجان با ظرفیت (۳۰۰۰) تن در روز؛<br>5. پروژه سمنت التمور چرخ ولایت لوگر با ظرفیت (۱۲۵۰) تن در روز. |
| **د مالگې سکتور مديريت؛** | د مالگې په سکتور کې د ځان بسياينې په موخه د اقتصادي کمېسيون د (٦) گڼې نيټه ۱۴۴۵/۰۴/۰۲ هـــ ق د فيصلې پر اساس په هېواد کې د مالگې واردول په مطلق ډول بند شوي. ياد هدف ته د رسيدو په موخه د بيلابيلو اداراو د اسـتازو په شـتون کې د مالگې فابريکو کيفيت او کميت ارزونه ترسره شـوه چې په پای کې اړينه وگټل |

| | |
|---|---|
| | شـوه ترڅو د فارياب، هرات، تخار ولايتونو د مالګې کانونه د پانګوالو د جلب په موخه اعلان او قراردادونه يې تر سره شي.<br>د مالګې په برخه کې د افغانســتان کلنۍ اړتيا (۳۰۰) زره ټنه ده چې اوســمهال (۳۴۴) زره ټنه په کال کې توليد کيږي او داخلي تقاضا پوره کوي.<br>لازم به ياد آوری اســت که وزارت معادن و پترولیم بمنظور خودکفايي و توليد نمک معياری داخلی همواره روی مديريت معادن نمک در سطح کشور کار مينمايد. |
| **د آمو دريا نفتي حوزه؛** | د آمو دريا نفتي حوزی قرارداد چې په ۱۴۰۱ کال کې لاسـليک شـوی و، د قراردادي شرکت د مکررو سرغړونو له کبله، د قرارداد د ارزونې په موخه بين الوزارتي کمېټه وټاکل شوه چې د هر اړخيزو څېړنو وروسته د رييس الوزرا د عالی مقام د حکم په اساس ياد قرارداد لغوه او اوسمهال يې مديريت د وزارت لخوا ترسره کېږي. |
| **د شـــبرغـان څـخـه تـر مزارشريف ښـــار پورې د ۹۴،۵ کيلومتره پا يپ لاين پروژه؛** | نوموړې پروژه چې اسـلامي امارت په خپل مالي لګښـت پيل کړې په ۲۴ سـاعتونو کې (1.5) ميليون متر مکعب ګاز له شبرغان څخه مزارشريف ته لېږدوي او په مزار شريف ښار کې به خصوصي سکټور ته د انرژۍ په برابرولو کې مؤثر تمام شي چې دا به د هېواد اقتصادي ودې او ياد ښار کې د صنعت پراختيا ته زمينه برابره کړي .<br>د يادې نل‌ليکې د غزېدو چارې (100 فيصـده) تکميل شـوي او پاتې چارې يې لکه (د پايپ لاين ټسـټونو ترسره کول او د دې پروژې اړوند سـاختمانی چارې) په ۱۴۴۷ هـــــ ق کال کی د افغان ګاز امارتي شرکت په تخنيکي همکاری تر سره کيږي. |
| **د جوزجان ولايت د يتيم تاق ګاز لرونکې ساحې؛** | جوزجان ولايت په يتيم تاق ساحه کې مجموعاً(۴۰) حلقې ګاز لرونکې څاه ګانې موجودې دي چې له دي جملې څخه (۷) حلقې څاګانې فعالې دي.<br>کانونو او پټروليم وزارت د ګازي منابعو پراختيا په موخه د جوزجان ولايت يتيم تاق سيمې پنځه حلقې (۳۳، ۳۴، ۳۵، ۴۰ او ۴۱ نمبر) څاګانو د حفارۍ قرارداد نړيوال شرکتونو سره لاسـليک کړی چې د نوموړې پروژې د حفاري چارې عملاً جريان لري او د هرې څاه د ورځني استخراجي ظرفيت يولک متر مکعب ګاز دی.<br>• د ګازو د تصفيې په موخه د دوه ميليونه متر مکعب په ظرفيت سره د تجريد سلفر يوه دستګاه داوطلبيې ته وړاندې شوې وه چې د واجد شرايط شرکت سره د ملي تدارکاتو کميسيون به مشرۍ مذاکرات تکميل شوي او قرارداد يې عقد کيږی. |
| **بلاک هـای ګـازدار طوطی ميدان و جنګل کلان حوزه آمو دريا در ولايات جوزجان و فارياب؛** | 1. بلاک های ګاز دار طوطی ميدان:<br>بلاک ګاز دار طوطی ميدان بتاريخ ۱۴۰۳/۷/۱۹ هـ ش با منظوری مقام محترم معاونيت اقتصادی رياست الوزراء با کمپنی ازبکستانی عقد ګرديده است.<br>2. بلاک ګاز دار جنګل کلان:<br>مذاکرات جهت جلب سرمايه ګذاری در بلاک های جنګل کلان با شرکت داوطلب ترکی جريان دارد. |
| **د هرات، هلمنـد او کتـواز نفتي حوزې؛** | 1. د هرات د کشـکه او تيرپل نفتي حوزې: د کانونو او پټروليم وزارت نوموړې پروژې د اکتشـاف او تقسـيم توليد (EPSC) تړون له مخې اعلان ته وړاندې کړې وې چې يو شـمير کورنيو او بهرنيو شرکتونو يادو پروژو ته لېوالتيا ښودلې وه اوسمهال د اقتصادي معاونيت د هدايت پر اساس ځينو شرکتونو سره مذاکرات جريان لري. |

| | |
|---|---|
| | 2. د هلمند او کټواز نفتي حوزې: کانونو او پټرولیم وزارت په پام کې لري چې په دې ســـاحو کې هوایي مقناطیسيــ او جاذبوې سروې ګانې تر سره کړي. د یادولو وړ ده چې د یادو حوزو لپاره تخنیکي اســناد او بودجه چمتو شوې او د داوطلبۍ اعلان ته چمتو دي. |
| **د مس عینک پروژې؛** | **لومړی مس عینک کان:**<br>د ا سلامي امارت له فتحې سره سم د کانونو او پټرولیم وزارت له چینایي کمپنۍ ( MCC-MJAM) سره د نوموړې پروژې د عملیاتي فعالیتونو چټکتیا په موخه بېلابېل اقدامات ترسره کړي دي.<br>• د کار شروع کېدو په موخه د شرکت لخواه د ګډې ځکمې لاندې کان کیندنې (مرکزي او غربي مس عینک) جامع طرحه د لرغونو آثارو د ســاتنې په نظر کې نیولو سره د اقتصــادي کمېســیون لخوا منظوره شــوې چې موضوع قراردادي کمپنۍ ته ابلاغ شوې ده.<br>• له ډېرو ســکرو څخه د حرارتي برېښــنا تولید پر ځای د اوبو څخه د برېښــنا تولید لپاره د باغدرې بند تخنیکي معلومات له شرکت سره شریک شـــوی چې اوســـمهال عملاً په باغدرې بند کې جیوتخنیک او جیوفزیک مطالعات روان دي او (۸۰) فیصده تخنیکي فعالیتونه یې بشپړ شوي دي.<br>• د لوګر ولایت د عینک مس کان ته د لاسرسي لپاره د ۸,۹ کیلومتره اسفالتي سرک د جوړولو کار بشپړ شوی او ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.<br>• د احجارو میخانیکي ازموینو د پاره د برمه کولو کارونه چې د دایمي کمپ د جوړولو او د مس د پروســـس ما شینونو او نورو ساختماني برخو نصبولو لپاره اړین دي، د MJAM کمپنۍ لخوا شاوخوا (۹۵٪) بشپړ شوي دي.<br>• د مس د وروستي پروسس (۹۹,۹۹٪ کتود مس) او د پروسس نه ترلاسه شوي سلفوریک اسید د بې ضرره کولو په اړه، د لوګر ولایت د محمد آغې ولسوالۍ د سنګ چونې د کان ا سناد منظورۍ ته ر سیدلي او پلان دی چې د MJAM کمپنۍ سره یې قرارداد لاسلیک شي.<br>**دوهم مس عینک کان:**<br>• د دوهم مس عینک کان قرارداد په ۱۴۰۲/۰۶/۰۹ هـــــ ش نیټه له تویار (TOYAR) شرکت سره لاســلیک شوی او نوموړی شرکت د دې پروژې درې کلن اکتشافي پلان چارې په محمدآغې او موسهي ولسوالیو کې عملاً شروع کړې دي.<br>• د نوموړی کان لمړی بلاک ته د لاسرسي لپاره د خامه سرک جوړولو چارې د کابل ولایت خاکجبار ولســوالۍ د تنګر په سیمه کې بشپړې شوي.<br>• د دوهم عینک کان اړوندو ســاحو د ځمکې د اســتملاک چارې چې ټول امارتي ځمکې تثبیت شــوی دی د انتقال پروسه یې جریان لري. |
| **د ټاپي پروژه؛** | وزارت د ټاپي پروژې اهمیت ته په کتلو د نوموړې پروژې تطبیق ته لومړیتوب ورکړی او د یادې پروژې د عملي چارو د پیل په موخه د ترکمنستان هېواد له مقاماتو او ټاپي پروژې رهبرۍ سره بیلابیلو ناستو په نتیجه کې د ټاپي |

| | |
|---|---|
| | پروژې اړوند د کوربه دولت تړون HGA او امنیتی تړون اسناد لاسلیک شو چې د پروژې د عملي چارو پیل لپاره مهم اقدام و.<br>د دې تړونونو له مخې به د هېواد متخصصین، انجنیران او کارګران په دې پروژه کې استخدام شي.<br>1. فاز اول پروژه انتقال گاز پایپ لاین تاپی که از تورغندی الی ولسوالی گذره ولایت هرات می باشد مجموعاً (۱۵۳) کیلومتر است که مصرف مجموعی آن (۵۸۰) میلیون دالر تخمین گردیده و توسط کشور ترکمنستان پرداخت میگردد که اکنون پیشرفت های ذیل انجام یافته است:<br>- سروی انجنیری (٦١) کیلومتر مسیر پایپ لاین.<br>- تکمیل ساخت (۲۸) کیلومتر سرک در کنار پایپ لاین.<br>- تکمیل کار (۱۳) کیلومتر تمدید پایپ لاین.<br>- فراهم سازی زمینه کار برای صدها تن هموطنان و ده ها ماشینری در ساحه.<br>2. با تطبیق فاز اول زمینه استفاده دایمی از این گاز در پارک های صنعتی، ساحات رهایشی، تاسیسات تولید برق از گاز، دستگاه های LPG و سایر بخش ها تامین میگردد که نقش مستقیم در تحرک اقتصادی کشور خواهد داشت.<br>3. په هرات ولایت کې د تاپي پروژې د ګازو د مصرف اقتصادي تحلیل ترسره شوی او د یاد ګازو انتقال لنډ مهاله امکان سنجی پروژه د تدارکاتو په مرحله کې ده.<br>د دی پروژی اړوند نور اسنادو لکه د ځمکو حقونو تړون، د استملاک د خدماتو تړون، د ګاز د انتقال تړون GTA، د پایپلاین سیستم د مقرراتو او پلور تړون GSPA باندې کار روان دی. |
| **قوانین او مقررات؛** | د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکم پر اساس د کانونو سکتور اړوندو قوانینو او طرزالعملونو باندې کار جریان لري.<br>● د (جامد) کانونو قانون: د (جامد) کانونو قانون د توشیح په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام ته د استولو وروسته د عالي مقام د نوي هدایت په اساس کار جریان لري چې اوس مهال د تکمیل په حال کې دی.<br>● د نفت او ګازو قانون: د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام د نوي فرمان په اساس، د نفتو او ګازو قانون باندی دوباره کار جریان لري چې اوس مهال د تکمیل په حال کې دی.<br>● د تاپي پروژې د استملاک قانون: د تاپي ګازو نل لیکې پروژې د ځمکې د استملاک قانون له طی مراحل وروسته د توشیح په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام ته استول شوې دی. |
| **طرزالعملونه؛** | وزارت د کانونو په سکتور کې د چارو د لا ښه تنظیم او شفافیت په موخه (۴۳) تخنیکي او مدیریتي طرزالعملونه چمتو کړي دي چې د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله تعالی د فرمان په اساس د نوموړو طرزالعملونو فقهی تخریج او نهایي کېدو باندې کار روان دی.<br>1. د کانونو تخنیکي تفتیش طرزالعمل؛<br>2. د عوایدو د وړاندوینې طرزالعمل؛<br>3. د عوایدو راټولولو طرزالعمل؛ |

| | |
|---|---|
| | 4. د ساختماني موادو کان کيندنې طرزالعمل؛<br>5. د جيولوجيکي معلوماتو د شريکولو او تصنيف کولو طرزالعمل؛<br>6. د کانونو ولايتي څارونکو کميټې طرزالعمل؛<br>7. په کانونو کې د لوړ ټنو ترازو (تلې) طرزالعمل؛<br>8. د تفحص او اکتشاف طرزالعمل؛<br>9. د منرالونو د صادرولو او انتقال لپاره طرزالعمل؛<br>10. د منرالونو موادو د پروسس طرزالعمل؛<br>11. د کانونو د تخنيکي کميټې طرزالعمل؛<br>12. د نرخ (بيې) ټاکنې کميټې کاري طرزالعمل؛<br>13. د کانونو باالمقطع څارونکو کاري طرزالعمل؛<br>14. د ظرفيت د لوړولو او روزنيزو پروگرامونو طرزالعمل.<br>15. د لويو کانونو کان کېندنې کميټې طرزالعمل؛<br>16. د کوچنۍ کچې کان کېندنې کميټې طرزالعمل؛<br>17. د خسارې د جبران طرزالعمل.<br>18. د منازعاتو د حل او فصل طرزالعمل.<br>19. د منرالي موادو د عرايضو طی مراحل طرزالعمل.<br>20. د مقدماتی سروی ګانو ترسره کولو طرزالعمل.<br>21. د کانونو د ساتنې کميټې طرزالعمل؛<br>22. د ډېرو سکرو موقت اجازه ليکونو صادرولو طرزالعمل؛<br>23. د حرفوي کان کيندنې طرزالعمل؛<br>د يادونې وړ ده چې د چارو د لا ښه تنظيم او همغږي په موخه د وزارت د (۲۰) رياستونو ته کاري لارښودونه ترتيب شوي دي. |
| **پلان او پاليسي؛** | • **پلانونه:**<br>د کانونو سکتور لپاره لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله اووه کلن کاري پلانونه چمتو شوي دي او د دې پلانونو تطبيقي پلان هم ترتيب شوی چې د وزارت چارې د همدې سند په اساس پر مخ وړل کيږي.<br>- همچنان وزارت معادن و پتروليم به منظور ترتيب ستراتيژی جديد سکتور معادن کميته کاری را مشخص و کار روی آن آغاز گرديده است.<br>- کانونو سکتور کې له اداري فساد سره د مبارزې اولويتونو پلان چمتو شوی او د چارو ادارې لوی ريا ست سره شريک شوې ده.<br>• **پاليسي ګانې:**<br>کانونو او پټروليم وزارت د چارو د لا ښه تنظيم په موخه (٦) پاليسي ګانې چمتو کړي دي:<br>1. د کانونو ملي پاليسي؛<br>2. د عوايدو پاليسي؛<br>3. د مالګې پاليسي؛<br>4. د کاني موادو د پروسس او صادراتو پاليسي؛ |

| | |
|---|---|
| | 5. د داخلي توليداتو څخه د کان کيندنې په پروژو کې د استفادې پاليسي؛<br>6. د کان کيندنی په پروژو کی د چاپيريال ساتنې پاليسي مسوده.<br>• **د پانګونې تشويق:**<br>• د پانګونې فرصتونه (کتلاک) او پانګونې لارښود چې د کانونو په سکټور کې د ګډون ټول مراحل او د پانګونې لپاره شته فرصتونه تشريح کوي، په پښتو، دري او انګليسي ژبو کې چمتو شوی ده.<br>د کاني پروژو په هکله د معلوماتو وړاندې کولو او فرصتونو د معرفي کولو په موخه، د بېلابېلو هېوادونو له پانګوالو او سفيرانو سره مخامخ ناستې او آنلاين کنفرانسونه جوړ شوي دي. |
| **د منرالونو اولويت بندی طرح؛** | د کانونو سکټور کې د منرالونو اولويت بندي په پام کې نيولو او راتلونکې کې د هېواد د صنعتي کېدو په موخه، د کانونو او پټروليم وزارت د کانونو اولويت بندی طرحه چمتو کړې ده چې د تائيدی لپاره د اقتصادی کميسيون ته استول شوې ده. |
| **د سيستمونو جوړونه؛** | وزارت د الکترونيکي حکومتولی د ترويج په موخه تر دا مهاله د کانونو په سکتور کې (١٦) سيستمونه جوړ او فعال کړي دي:<br>1. د لوړ وزن لرونکو ترازوګانو (تلو) د مديريت سيستم.<br>2. د عوايدو د مديريت سيستم؛<br>3. د قراردادونو د مديريت سيستم؛<br>4. د حرفه اي جوازونو د مديريت سيستم؛<br>5. د جيولوجيکي راپورنو د آرشيف سيستم؛<br>6. د افغانستان د جيولوجيکي سروی سيستم؛<br>7. د تفحص او اکتشاف چارو د مديريت سيستم؛<br>8. د جيولوجيکی معلوماتو د ګزارشدهی سيستم؛<br>9. سيستم مديريت لابراتوار ها؛<br>10. داخلی تفتيش چارو د مديريت سيستم؛<br>11. د مالي او حسابي چارو د مديريت سيستم؛<br>12. د عرايضو او مکتوبونو د مديريت سيستم؛<br>13. د الکترونيکي حاضري سيستم؛<br>14. د ترانسپورت او جي پي اس د مديريت سيستم؛<br>15. د اجناسو او ګدامداری د مديريت سيستم؛<br>16. د دعوت او ارشاد رياست لپاره د مبايل اپليکيشن؛ |
| **د کانونو تخنيکي تفتيش؛** | په ۱۴۴٦ هـ ق کال کی د هېواد مختلفو ولايتونو لکه خوست، هلمند، پکتيا، کابل، باميان، هرات، ننګرهار، کنړ، پروان، کندهار، بلخ، لوګر، بغلان، ميدان وردګ، فار ياب، جوز جان، غزني، دايکندي، لغمان، غور، ارزګان، کاپيسا، تخار، زابل او کندهار کې د (۷۴۸) اکتشافي او استخراجي قراردادونو څخه تخنيکي او فني ارزونه ترسره شوې ده. |

| | |
|---|---|
| | لازم به تذکر است که وزارت معادن و پترولیم بشکل دوامدار از قرارداد های معدنکاری نظارت می نماید و جهت تطبیق مؤثر آن وقتاً فوقتاً اقدامات لازم برمیدارد. که در نتیجه مشکلات کمبودی ها و نواقص امورات تخنیکی و مدیریتی فعالیت های معدنکاری و دارندگان جواز برجسته گردیده و به شرکت ها و مراجع مربوطه اخبار گردیده است.<br>طی این بررسی ها به تعداد (۲۰۰۴) موارد پیشنهادات مفتشین جهت حل مشکلات، رفع نواقص و بهبود فعالیت معدنکاری، جمع آوری عواید و رعایت معیارات تخنیکی به شرکت ها و دارندگان جواز و سایر مراجع ذیربط اخبار و پیگیری گردیده است.<br>• کانونو او پټرولیم وزارت د یو شمیر قراردادونو وضعیت ته په کتو د (۱۸) کوچني مقیاس کانونو قراردادونه لغوه او د (۱) قرارداد فعالیتونه تعلیق او ځنډولي چې نوموړي قراردادونه د ساختماني موادو، تزیني ډبرو او صنعتي منرالونو له جملې څخه دي. |
| **غیر قانوني کان کېندنو مخنیوی؛** | د کانونو غیر رسمي کېندنه یوه ستره ننګونه وه چې د لسیزو را پدیخوا یې ټول هېواد له ستونزو سره مخ کړی و. د افغانستان اسلامي امارت د غیر رسمي کان کېندنو په رسمي کولو او د قاچاق مخنیوي برخه کې الحمدلله د پام وړ لاسته راوړنې لري.<br>- د کانونو د غیر قانوني استخراج د مخنیوي په موخه د وزارت په تشکیل کې د کانونو د ساتنې کمیټې د انسجام ریاست جوړ شوی ترڅو د هېواد له کانونو څخه په ښه توګه ساتنه وشي او غیر قانوني کان کیندنې، انتقال او قاچاق څخه مخنیوی وشي.<br>- په ۳۴ ولایتونو کې له نهه ارګانونو څخه متشکله د کانونو څارنې یوه کمیټه جوړه شوې چې په دوامداره توګه د کانونو د حفاظت او نظارت ترڅنګ د غیر قانوني کان کېندنې او قاچاق څخه مخنیوی کوي.<br>- به منظور جلوگیری از فعالیت های غیر قانونی معدنکاری طرزالعمل محافظت معادن با منظوری معاونیت محترم اقتصادی ترتیب گردیده است که بصورت ماهوار تحت نظر والی ولایت و هشت ارگان ذیربط جلسات تطبیق این طرزالعمل دایر می گردد.<br>در (۲٦) ولایت کشور گراف معدنکاری غیر قانونی و قاچاق مواد معدنی به صفر تقرب یافته و در متباقی ولایات کشور تلاش های جدی جهت جلوگیری از هر نوع فعالیت های غیر قانونی در بخش معادن جریان دارد. |
| **د داخلي او خارجي همکاریو هوکړه لیکونه؛** | د افغانستان اسلامي امارت له راتګ سره سم، د چارو د لا ښه تنظیم په موخه کانونو او پټرولیم وزارت د بېلا بیلو امارتي اداراو او بهرنیو هېوادونو سره د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک کړي چې په لاندې ډول دي:<br>**بهرني هوکړه لیکونه:**<br>- موافقتنامه همکاری سروی جیولوجی میان وزارت معادن و پترولیم ا.ا افغانستان و وزارت جیولوجی و منابع منرالی ازبکستان؛<br>- موافقتنامه همکاری سروی معدن آهن خوشی ولایت بامیان میان افغانستان و ازبکستان؛<br>- موافقتنامه همکاری سروی معدن مس کندلان ولایت زابل میان افغانستان و ازبکستان؛<br>- موافقتنامه همکاری سروی سه بلاک حوزه افغان تاجک (خامار، احمد آباد و محمد جان دگر) میان افغانستان و ازبکستان؛<br>د افغانستان اسلامي امارت د کانونو او پټرولیم وزارت او ازبکستان هېواد د جیولوجي او منرالي سرچینو وزارت ترمنځ د کانونو په سکټور کې د همکارۍ هوکړه لیکونه لاسلیک شوي چې ازبک پانګوال به د نافذه اصولو له مخې د اوسپنې، مسو، نفت او ګازو اکتشاف په برخو کې همکاري او پانګونه کوي. |

| | |
|---|---|
| | **د داخلي همکاریو هوکړه لیکونه:**<br>- د کانونو او پټرولیم وزارت او ذیربط اداراو ترمنځ ساختماني موادو څخه د استفادې په اړه؛<br>- د کانونو او پټرولیم او اوبو او برېښنا وزارتونو د ډبرو سکرو او طبیعي ګازو سرچینو څخه د برېښنا تولید لپاره د پانګونې جذب او ملاتړ په اړه؛<br>- د کانونو او پټرولیم او کار او ټولنیزو چارو وزارتونو ترمنځ د کارموندنې او معیشت د برابرولو په اړه؛<br>- د کانونو او پټرولیم وزارت او د لوګر ولایت پوهنتون ترمنځ د همکاریو په اړه؛<br>- د کانونو او پټرولیم وزارت او د پنجشیر ولایت پوهنتون ترمنځ د همکاریو په اړه.<br>- د کانونو او پټرولیم وزارت او سوداګرۍ او پانګونې خونې ترمنځ د همکاریو په اړه.<br>- د پولی تخنیک پوهنتون سره په تفاهم د طرفینو ترمنځ د همکارۍ سند لاسلیک چې د شرکتونو لخوا به فارغ محصلین د معدنکارۍ په پروژو کې استخدام کیږي.<br>د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله تعالی د ۱۴۴۵/۰۷/۰۴ هـ ق نیټې (۲۱) ګڼې فرمان په اساس د شمال د ډبرو سکرو او د افغان ګاز شرکتونه، امارتي شرکتونو عالي ادارې ته انتقال شوي دي. د دې فرمان په اساس د کانونو او پټرولیم وزارت او یادو شرکتونو ترمنځ د مدیریت د انتقال هوکړه لیکونه لاسلیک شوې دی. |
| **د زیربنـایي او عـام المنفعـه پروژو تطبیق لپاره د لویو او کوچنیو کانونو عواید ځانګړي کول؛** | د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په هدایت او د اقتصادي کمېسیون په منظورۍ د یو شمیر عام المنفعه پروژو لکه: د قوش تیپې کانال تمویل، سړکونو او بندونو جوړول پروژو د تطبیق په موخه د لوی مقیاس (۸) او کوچني مقیاس (۹) د ډبرو سکرو، کرومایټو، سرب او جست، سرو زرو کانونو عواید او د نفتو عواید ځانګړي شوي دي. |
| **د کارکنانو ظرفیت لوړولو؛** | کانونو او پټرولیم وزارت په دوامداره توګه د کارکنانو ظرفیت لوړولو لپاره بېلابېلو روزنیز پروګرامونه په لاره اچولي دي:<br>- د ۳۴ ولایتونو رئیســانو او آمرینو ته د اداري اجراآتو، قوانین، پلان جوړونې، شــفافیت او امانت دارۍ په اړه روزنیز پروګرامونه دایر شــوي چې په پایله کې د نوموړو رئیســانو په کاري اجراآتو کې مثبت تغییرات رامنځته شوي دي.<br>- تدویر برنامه های آموزشـــی تخنیکی و مســـلکی برای انجنیران وزارت و کارگران شرکت های معدنکاری در مرکز و ولایات جهت بلند بردن ظرفیت در بخش های معدنکاری.<br>کانونو او پټرولیم وزارت د هېواد تحصـیلي مؤسـسـاتو سره د همکارۍ په موخه د ولایتونو رئیسـان، همکاران او پولیتخنیک پوهنتونونو اړوند د معدنکارۍ رشتې لسګونه محصلینو ته د ظرفیت لوړونې او تجاربو د انتقال په برخه کې د ټرېننګونو فرصت برابر کړی ده. |
| **هـمغږي، شــفـا فیـت، او معلومات ورکونه؛** | - د کانونو او پټرولیم وزارت د افغانســتان اســلامي امارت عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د احکامو او فرامینو تطبیق لپاره خاص پاملرنه کړې چې د تطبیق څخه یې اړوند اجراآت وخت په وخت له اړوندو ادارو سره شریک کړي دي.<br>- د کانونو او پټرولیم وزارت د شـفافیت د تآمین په موخه په 1446 هـــــ ق کال کی (۳) لوړ وزن لرونکی تلې نصب او فعالې کړي دي. |

| | |
|---|---|
| | د یادونې وړ ده چې د فتحی څخه تر اوســه پوری مجموعاْ (۱۸) لوړ وزن لرونکې تلې په (۱۴) ولا یاتونو (میدان وردگ، ننگرهار، سمنگان، هرات، سرپل، کنړ، لوگر، بامیان، بدخشان، کندهار، تخار، زابل، غزنی او بادغیس) کې نصب او فعالې کړي.<br>- د کانونو په ســکتور کې د ترسره شــویو پرمختگونو په اړه د کانونو او پټرولیم وزارت د مطبوعاتو او ویاند له طرفه په دوامداره توگه خپل فعالیتونه په لیکلي، صـوتي او تصـویري او ځانگړو مرکو او بحثونو له لارې له رسنیو او خپل درانه ملت سره شریک کړي دي.<br>- په ولایتونو کې د کان کیندنې له چارو څخه د نظارت او شفافیت رامنځته کېدو په موخه د کانونو او پټرولیم وزارت رهبري د هېواد ټول ولایتونو ته کاري سفرونه کړي او له نږدې څخه یې د کارونو ارزونه کړې ده. |
| **په ټیټه بیه د کابل ښــاریانو او نورو ولایتونو ته د ژمي د اړتیا وړ ســون توکي (ډبرو سکرو) چمتو کول؛** | د افغانستان اسلامي امارت د محترمې کابینې د پریکړې پر اساس، د کانونو او پټرولیم وزارت د اړوند نورو ادارو په همکارۍ وکولای شول چې په تېر ژمي کې په ټیټ نرخ د کابل ښاریانو او نورو ولایتونو ته د ژمي د اړتیا وړ سون توکي (ډبرو سکاره) چمتو او د یو منظم میکانیزم له مخې توزیع شول او د راتلونکي کال لپاره هم ورته پروسه په پلان کې لرو. |
| **تر کار لاندی/ پلان شویو فعالیتونه شرحه**<br>(شرح فعالیت های تحت کار/ پلان) | 1. **انجام سروی های اساسی و نقشه برداری های جیولوجیکی مواد معدنی مختلف النوع در ولایات کشور.**<br>2. **د کانونو او پټرولیم وزارت په هرات، ننگرهار، فاریاب، کندهار، کندز، بدخشان، غور، پنجشیر، بادغیس، میدان وردگ، پروان، غزنی، بامیان او کاپیسا ولایتونو کې د لوی مقیاس کانونو لکه د مسو، اوسپنی، پولی میتال، تالک، مالگه، سره زر، لاجورد، سرب او جست، ډبرو سکاره، مرمر کانونو پروژو په اړه د جیولوجیکي معلوماتي کڅوړو ترتیبولو باندې کار پیل کړی چې تر نهایي کیدو وروسته به یې د داوطلبی په موخه اعلان ته وسپارل شي.**<br>3. **طی مراحل پروسه داوطلبی سروی هوای و مقناطیسی حوزه نفتی هلمند و کتواز پکتیکا.**<br>4. **انجام بازرسی های فنی و تخنیکی از فعالیت های معدنکاری و ایجاد قطعات محافظتی و امنیتی سیار جهت حفاظت از معادن در (۳۴) ولایت کشور.**<br>5. **د کانونو سکتور د قانونې چوکاټ اړوند سندونو طرح او تصویب کول.**<br>6. **ترتیب استراتیژی پنج ساله سکتور معادن.**<br>7. **د هېواد په داخل کې د کانې موادو پروسس تشویق او تسهیل.**<br>**8. د روڼتیا او الکترونیکی حکومتولی په موخه د سیستمونو په پراختیا باندې کارکول.** |

تمت بالخیر